# د یادونو مقبرو کښې

## (خطرناک بلیک لسټ)

۱۱ سعدالله جان برق

ربنتیا خبره خو دا ده چې په اول اول سر کښې ما د ادب او شاعرۍ بوس بادول شروع کړل. نو هیڅ څۀ خیال او نظریه یا اراده مې نۀ وه، بلکې یوه حادثه وه وشوه خو زما خیال دے چې دا حادثه هم څۀ ناڅاپي نۀ وه شوې، هغه د اردو یو ډېر زړۀ چاودے شاعر ؤ. قابل اجمیري هغۀ یو شعر وئیلے دے:

وقت کرتا ہے پرورش برسوں
حادثہ ایک دم نہیں ہوتا

زما په شکل کښې چې پښتو ژبې او ادب سره کومه حادثه وشوه یا سانحه پرې تېره شوه، د دې جرړې لرې زما په وړوکتیا کښې چرته خورې دي.

د ټولو نه اولنے سبب خو ئې دا دے چې نۀ زۀ په دنیاوي لحاظ څۀ خاص سړے وم، نۀ په خانداني او نۀ په بل څۀ لحاظ. تعلیم مې هم کم ؤ، د ژوند په یوه لاره هم کامیاب شوے نۀ وم او زما د ادب او داسې نورو ډېرو څیزونو په باره کښې پخه عقیده ده چې داسې قسم کارونه اکثر د ناکامۍ او په خاص طور د ناکامۍ د لاشعوري احساس نتیجه وي. کوم خلق چې په هر لوري ناکام شي نو څۀ داسې دنده ځان له روانه کړي چې ځان پکښې مطمئن کړي. د شهرت خواهش ئې پوره شي یا کم از کم په دغه فریب کښې خو ئې عمر تېر شي. فیضي صیب ډېره زبردسته خبره کړې ده چې:

د شها د دې خبرې جواب نشته
بعضې خلق د نیستۍ نه شاعران شي

بل څوک وي او که نۀ او د هر چا خپل حق دے چې ځان له څنګه پرتوګ جوړوي، جوړولے شي خو زما کم از کم د ځان باره کښې خو یقین دے چې دا ټول هم د نیستۍ نه پېدا شوي حالات دي. سګمنډ فرائیډ، ژونګ او داسې نور د نفسیاتو عالمان وائي چې د انسان ټول ژوند او شخصیت د دۀ د جنسي جذباتو تابع وي او د دۀ د هر خواهش او حرکت جرړې په جنس کښې وي. نور څۀ خلق د ډې این اې وغېره خبرې هم کوي. کېدے شي چې تر څۀ حده دغه څیزونه هم د انسان په ژوند او شخصیت اثر اچوي خو زما خپل دا خیال یا تجربه ده چې انسان په اصل کښې ازلي او ادبي شهرت پسند ځناور دے. انفرادیت پسند هم ورته وئیلے شئ او په منډه کښې د ټولو نه اول نمبر راتلل هم د دې یو شکل دے خو په هر حال کښې د انسان اول او اخر خواهش او کوشش دا وي چې دے په خپله حلقه کښې چاپېرچل کښې او معاشره کښې د نورو نه اوچت شي، منفرد شي او ممتاز شي. څوک په دولت

دغـه مقـام حاصـلول غـواړي، څـوک اقتـدار د دې مقصد يـوه ذريعـه ګڼي، څوک علم، څوک هنر او څوک څۀ بل څۀ. خو بهر حال ځان په ټولو کښې په څۀ نا څۀ شکل کښې سربالا کول غواړي. دا اوس د هر چا خپل ماحول، خپله دائره او خپل حالات وي چې دے په کوم طرف مخه کوي يا وس ئې رسي. کۀ دولت وي نو د دولت ګټلو په لاره روان شي، څوک مرتبه حاصلول غواړي څوک څۀ او څۀ څوک څۀ حد دا چې جائزه لاره ونۀ مومي نو مجرم شي، غنډه شي، قاتل شي، ظالم شي خو بس وائي چې ما خلق حېران او د ځان قائل کړي. اکثر يکښې چې د دنيا د ټولو لارو نه مايوسه شي يا ناکام شي يا دومره حوصله پکښې نۀ وي نو د دين په لمن کښې ځان ونغاړي،کۀ دلته نۀ وي نو چې هغه جهان کښې خو فاتح شم. بلکې تر دې حده پورې ده چې کۀ د چا نه هيڅ هم جوړ نۀ شي نو هغه پاګل شي او داسې د نورې دنيا نه ځان ممتاز او منفرد کړي.

د فن او شعر و ادب لاره هم داسې يوه لاره ده چې په بل طرف درک ونۀ لګي يا موقع ملاؤ نۀ شي نو دا لاره خپله کړي او د خپل انفراديت ممتازيت او شهرت بندوبست ځان له وکړي بلکې تر څۀ حده دا هم وئيلے شو چې هر يو خاص قسم کار يا فن يا هنر يا کمال د بل يو څۀ کمي د پوره کولو کوشش وي لکه څنګه چې مونږ بعضې جسماني طور معذوران خلق وينو چې کۀ يو طرف ته پکښې څۀ کمے وي نو دغه کمے په بله څۀ خوبۍ پوره کړي يا ئې کوشش کوي چې څۀ ښۀ کار ورته په ګوتو ور نۀ شي نو بيا وران کارونه کوي او خلق بيا وائي چې يو رګ ئې زيات دے.

نو زما هم دغه قيصه ده چې چرته بله ښه غوندې لاره مې ونۀ موندله نو دې مېدان ته راغلم لکه بعضې خلق فټ بال نۀ شي کولے نو هاکي شروع کړي چې دا هم نۀ شي کولے نو بله څۀ لوبه شروع کړي. دا شاعران اديبان، سندرغاړي، اداکاران، مصوران او رنګارنګ فنکاران بېچاره ګان هم په دې چل خپل څۀ کمے، څۀ محرومي او څۀ نيمګړتيا پوره کوي يا عېب پټوي.

خو دا زما په نظر کښې څۀ بد کار نۀ دے. انسان يو هم مکمل نۀ وی او دا د ژوند ټوله رنګارنګي، انساني ترقي، کارنامې، ايجادات او فتوحات هم د دغه "هڅې" او خواهش مېوې دی کۀ کله هم انسان ځان مکمل وګڼلو نو هغه ختم شو، دې ته بيا نرګسيت وائي. په ځان مئېنتيا، په ځان عاشق کېدل او د ځان نه چاپېره چورلېدل.

نرګسيت يوه نفسياتي اصطلاح او ډېر خراب مرض دے په يوناني اساطيرو کښې قيصه ده چې يو سړے نارسس نومي ډېر زيات ښائسته ؤ. دومره ښائسته ؤ چې يوه ورځ ئې په اوبو کښې خپل مخ وليدو نو په ځان مئين شو او دومره زيات مئين شو چې د خپل عکس نه ئې سترګې نه اخوا کولې اوبۀ ئې هم نۀ څښلې چې هسې نه زما دا عکس وران شي نو د لوږې او تندې نه هم هلته د درياب په غاړه مړ شو او په هغه ځائے د نرګس بوټے او ګل زرغون شو.

د نرګسيت ښکار بنده ټول صفات په خپل ځان کښېويني او ځان د هر عېب نه بالاتر ګڼي نتيجه ئې دا وشي چې هيڅ هم ترې جوړ نۀ شي. نرګسيت انفرادي هم وي او اجتماعي هم، داسې مريض چې هر چرته ښۀ کار وشي نو په څۀ نا څۀ شکل کښې ئې ځان

پورې تړل غواړي خو کۀ هیڅ تعلق ئې ورسره نۀ جوړېږي لکه مثلاً په بل ملک کښې څوک څۀ کارنامه وکړي نو ځان ورسره په دې تعلق وتړي چې ما وئیل چې داسې به کېږي عن کۀ وړاندې ئې مخالفت هم نۀ وي کړے یا ئې په خوا خاطر کښې نۀ وي او چې وران کار خالص هم د دۀ د لاسه وشي نو د هغې ذمه وار به بل څوک جوړوي کۀ هیڅ بله بهانه نۀ وي نو وائي د نظره ئې کړم یا بدنیته وۀ راته یا په مخ مې لګېدلے ؤ مخ ئې راباندې سپېرۀ شو په مټ ئې راته اواز وکړو، تعویذ دم جادو وغېره څۀ نا څۀ خو خامخا وائي.

پۀ اجتماعي طور زمونږ د مسلمانانو هم دغه حال دے، جوړېږي ترې نه په خپله نۀ، نۀ ئې همت شته، نۀ حوصله، نۀ علم، نۀ هنر نو دا ډېره اسانه خبره ده چې دا ټول د کافرانو سازشونه دي هلکه په کومه ورځ، کښې چې ستا نیکونو مرزان، سپي، چرګان جنګول یا ئې په خپله جنګونه کول یا ئې عیاشۍ، جوارۍ او نشې تماشې کولې، نو د هغوی نیکونو موټرې، رېلونه، جهازونه، مشینونه جوړول، خوارۍ او محنتونه ئې کول نو دا دولت کمال او مزې ئې حق دي او چې بیا بل ترې څۀ جوړ نۀ شي نو یره دا زمونږ د دین نه ئې هر څۀ پټ کړي دي یا پرېږده د کافرانو خو صرف دغه دنیا ده.

زمونږ دین بې مثاله، زمونږ خوي لاجوابه، زمونږ غېرت لاثاني، زمونږ بهادري، زمونږ عقل، زمونږ پوهه، خوي هر څۀ اوچت دي او کافران مردار پلیت هر څۀ ئې ګنده سخا بدبویه وغېره وغېره. او زمونږ هره بدقسمتي د کافرانو د سازشونو د لاسه ده او لا چې یوسړے مسلمان هم وي او ورسره پښتون هم وي نو بیا خو دوه نشې شوې، برېت به تاووهي او خپلې قصیدې به وائي، در په در خاورې په سر به وي خو نشه ئې اسمان سره خبرې کوي او لا چې د دغه دوو نشو سره څوک شاعر هم شو نو راشه کۀ تودېږې بیا خو نېغ په اووم اسمان کښې ناست وي. په دې ټوله دنیا بلکې په ستورو اسمانونو او کائنات باندې احسانونه کوي چې کۀ زۀ نۀ وے نو ستا چا تپوس هم نۀ کولو.

خبره بیا خپل ځائے له راولم نو په ادب هم احسان، په ژبه هم احسان، په پښتون قوم هم احسان ځکه چې دۀ یو غزل وئیلے وي. یو ځل ما ته یو شاعر ووې چې ستا دومره عمر نۀ دے لکه څومره چې ما د پښتو ادب خدمت کړے دے ما ورته وئیل یره مهرباني وکړه تۀ دې دا خپل فضول شعرونه د پښتو نه لرې کړه نو څۀ فرق به پکښې راشي.

خو زما داسې هیڅ دعوٰي نشته د خپل شهرت پسندۍ او نوم یا سېر اوړو دپاره لګیا وم اوس کۀ چرته څۀ فائده ترې ولاړه شوې وي نو هغه ئې خپل نصیب دے ګڼي زما د خپل ځان او تخلیقاتو، خدمت او لر په زیاته ادبي ژبه کښې "فن" په باره کښې دا یقین دے چې کۀ پښتو کښې نۀ وے نو هم به پکښې څۀ کمے نۀ ؤ راغلے او چې شته نو هم څۀ ګونګروګان ورته ما نۀ دي اچولي.

یوه ورځ ما ته یو د ټي وي پروډیوسر ووې خپله ډرامه دې ببګاه وکته ما وې میراته دې شي زما د چیک سره زیاته دلچسپي ده. وئیل ئې نه ما پرې کمال کړے دے، ما وې کۀ نۀ وے دې کړے نو هم دغه هومره چیک به ئې وے. نو زۀ نن دا اعتراف بلکې په عدالتي اصطلاح کښې کنفیشن کوم (کۀ بل څوک ئې کوي او کۀ نۀ) چې ما ټول عمر صرف او

صرف ځان د پاره لیکلي دي، د خپلې ګټې د پاره د خپل شهرت د پاره او که د ژبې او ادب د پاره ئې حساب کړم نو هغه هم زما ځان دي په بل چا ئې څۀ له احسان وکړم. بچې په مور پلار دا احسان هر ګز نۀ شي کولې چې زۀ چې درته ادې بابا وایم یا مو عزت کوم یا دا کوُم یا هغه البته مور پلار په اولاد احسان نۀ بلکې احسانونه کولې شي او پرې باندې ئې وي هم. که ما چرته څۀ داسې کار ارادي یا غېر ارادي طور کړې وي چې قام ژبې یا ادب ته پرې څۀ فائده رسېدلې وي نو هغه خو ډېر نمک حرامه اولاد وي چې حجرې ته راوزي او چغې کړي چې ما نن مور پلار له ډوډۍ ورکړه، یا مې ورله جامې راوړې یا مې ورله په سر یا پښو زور وکړو او ټول خلق به پرې لعنت وائي او وئیل پرې پکار هم دي.

خو زۀ دا اعتراف کوم چې ما له زما مور پلار یعنې پښتو ادب او ژبې ډېر څۀ راکړي دي چې دا خپل نوم او ولدیت ئې راکړې دې د دې قیمت هم زۀ نۀ شم ادا کولې هم دغسې څو عېبونه دي چې زۀ ئې همېشه د شرفاؤ یا د سرکاري دانشورانو په لستې کښې بلېک لسټ ساتلې یم ځکه چې د خپل کار نه زیاته تنخوا او صله ئې اخستله نو زما څۀ کار دې چې شاباشې ورکړم او یا ئې د ادب ژبې او یا په خپلو اوږو سور کړم او هغوي به دا غوښتل نو عجیبه مصیبت ؤ چې چرته به لاړم نو هلته به مې ځان ته پساتونه وکرل چې چرته لاړ شي هلته جوړ کړي پساتونه.

خو زۀ دا اعتراف هم په اوچت اواز کول غواړم چې بعضې داسې خلق هم وو او شته چې سره د دې عېبونو ئې زۀ قبول کړې یم، په سر سترګو ئې کښېنولې یم، نېکۍ ئې راسره کړې دي او ځلولې ئې یم. د داسې خلقو ذکر به په خپل خپل ځائې په تفصیل سره کوم ځکه چې که دغه خلقو ماله لاس نۀ وې راکړې نو نۀ به برق ؤ او نۀ به ئې نوم ؤ خو یو عام خړپړ کلي وال به یو خړ پړ کلي کښې خاورې ایرې شوې ؤ.

## خبرتیا

قدرمنو لوستونکو لکه چې تاسو ته معلومه ده د ((پښتون اداره)) د فخر افغان باچا خان او د رهبر تحریک خان عبدالولي خان د وفات په مناسبت هر کال یوه خصوصي شماره وباسي. سږکال هم مونږ دا اراده لرو چې د دې دواړو هستو په یاد کښې یوه خصوصي ګڼه ستاسو مخې ته راولو. ټولو لیکونکو، شاعرانو، ادیبانو او سیاسي شخصیاتو ته خواست کوو چې د پښتنو د دې دواړو سترو مشرانو په ژوند، خدماتو او سیاسي نظریاتو خپل لیکلي مضامین او نظمونه زر تر زره مونږ ته راواستوي چې په دې خصوصي ګڼه کښې شامل کړې شي. پکار دي چې لیکونکي د روایتي قسمه لیکونو نه ډډه وکړي او د دواړو مشرانو په ژوند او مبارزه داسې لیکل وکړي چې څۀ نوي معلومات او تجزیې ولري. کومې خبرې چې مخکښې شوې دي او د پښتون په تېرو ګڼو کښې چاپ شوي هم دي پکار ده چې هغه دوباره تکرار نۀ شي.